**مطبوعاتي اعلاميه**

# ملګرو ملتونو د خیرغوښتنې په جامه کې د افغانستان له خلکو سره دښمنۍ ته ملا تړلې

د ملګرو ملتونو د انکشافي پروګرام (UNDP) په یوه راپور کې راغلي چې، د افغانستان بانکي سیستم د نغدو پیسو له ناورین سره مخ دی او دا ستونزه په راتلونکو څو میاشتو کې د بانکي نظام د سقوط لامل کېدای شي. دغه راز د افغانستان په چارو کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې ډیبرا لاینز د امنیت شورى ناسته کې په خپلو خبرو کې وویل: «موده وړاندې داعش یوازې په څو ولایتونو او کابل پورې محدود و، خو اوس لیدل کیږي نږدې په ټولو ولایتونو کې پراخ شتون او پام وړ فعالیت لري».

وروسته تر دې چې امریکا او ناټو په شرمناک ډول افغانستان پرېښود، اوس یې د ملګرو ملتونو د سازمان تر شا مورچه نیولې او خپل فعالیتونه د دغه سازمان له ادرسه مخته وړي. د ملګرو ملتونو سازمان د غربي قدرتونو له ګټو سره سم منفي او غیر واقعي راپورونه خپروي، تر څو په مرسته یې د خلکو تر منځ د ګډوډۍ او سرګردانۍ خپرېدو ته لمن ووهي او د افغانستان پر اوسنیو چارواکو فشارونه ډېر کړي. نړیواله ټولنه د دې لپاره چې د افغانستان اسلامي امارت تر فشار لاندې راولي او د یو اسلامي نظام په جوړولو کې یې پاتې راولي؛ له درې غواوریو څخه د وسیلې په توګه کار اخلي: لومړی په رسمیت نه پېژندل؛ دوهم، اقتصادي بندیزونه او د پیسو د زیرمو بندول؛ درېیم، د داعش لپاره فضا جوړول. تر څو د دغو غوراویو په کارولو سره د افغانستان اسلامي امارت د غیر اسلامي شرطونو منلو ته اړباسي. دا بیخي جوته ده چې داعش د افغانستان په ټولو ولایتونو کې فعالیت نه لري، مګر ملګري ملتونه او غربي رسنۍ د داعش د لوی ښودلو لپاره رسنیز کمپاین پر مخ وړي.

له بله پلوه؛ د ملګرو ملتونو سازمان د افغانستان له خلکو سره د منافقت او دوه مخیتوب لوبه پیل کړې ده. له یوه پلوه د بشري ناورین، بې وزلۍ، بېکارۍ او وچکالۍ په اړه خبرې کوي او له افغانانو سره د مکر اوښکې تویوي؛ خو له بله اړخه د افغانستان د مالي او بانکي سیستم پر وړاندې د دغسې منفي راپورونو په خپرولو سره، د دغه سیستم اعتبار زیانمنوي او غواړي له پښو یې وغورځوي. په داسې حال کې ـ چې د افغانستان بانکونه د نغدو پیسو له بحران سره مخ دي ـ د دغسې راپور خپرول ناوړه پایلې لري. په دې کار سره به پر بانکونو د خلکو جوپې ورماتې شي او د مالي او بانکي سیستم راتلونکی به له لوی خطر سره مخ کړي او دا کار بشري ناورین لا پسې ډېروي.

د افغانستان خلک باید وپوهیږي چې اوس وخت کې ملګري ملتونه د امریکا او ناټو د ګټو د تامین په لټه کې دي او هڅه کوي چې د افغانستان پر خلکو د اقتصادي بندېزونو په وضع کولو او د اقتصادي او امنیتي وضعیت په خرابولو سره، د دوی له منځه تللی اعتبار بېرته ورغوي. په داسې حال کې چې غرب نه یوازې په افغانستان، بلکې په ټوله نړۍ کې خپل باور له لاسه ورکړی او دغه خیالي او وروست شوی اعتبار د بېرته رغېدو جوګه نه دی.

د اسلامي امارت مسولین باید دې باریکۍ ته په پوره دقت متوجه وي چې ملګري ملتونه یو بې‌پرې او خیرغوښتونکی سازمان نه دی، بلکې په حقیقت کې هغه سازمان دی چې د سترو قدرتونو لخوا رامنځته شوی او کارول کیږي، ترڅو په مستقیم او غیر مستقیم ډول د دغو قدرتونو ګټې خوندي کړي. د دغه سازمان په ګډون ټول نړیوال سازمانونه د بشردوستۍ په جامه کې د شیطان (غربي ښکېلاکګرو) لاسونه دي چې په ټولو هېوادونو کې د هغوی د ګټو او موخو لپاره لار پاکوي. نو د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو سازمانونو په اړه نېک ګومان، له هغوی سره هر ډول اړیکې او په دغه سازمان کې د غړیتوب هڅه ستره او نه جبرانېدونکې تېروتنه ده.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ﴾** [آل‌عمران: ۱۱۸ ]

ژباړه: اې مؤمنانو! د خپلې ټولنې له وګړو (مسلمانانو) پرته له نورو خلکو سره خپل رازونه مه شریکوئ. دوی تاسو ته د شر او زیان رسولو هیڅ فرصت له لاسه نه ورکوي او دا خوښوي چې تاسو په ستونزو کې یاست، تاسو سره د دوی کینه او دښمني د دوی له خولو (خبرو) څخه څرګنده او هغه څه (کینه او دښمني) چې دوی په خپلو سینو کښې پټ ساتلي دي، هغه تر دې ډېر زیات دي (چې له خبرو یې ښکاري).

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**